# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملی ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږی**

---

**۲/ ربيع الثاني /۱۴۴۴هـ ق مطابق ٦/ عقرب /۱۴۰۱هـ ش**

# د ساز او سرود حرمت او ضرورنه

الحمدلله الذى حرم الفواحش ماظهر منها ومابطن وحذرمن قربانها والاسباب الموصلة اليها رحمةً بعباده وصيانةً لهم عما يضرهم فى دينهم ودنياهم. احمده على احسانه واشكره على لطفه وامتنانه واشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له فى ربوبيته والهيته واسمائه وصفاته.واشهد ان محمداًعبده ورسوله لاخير الادل الامة عليه ولاشرّالاحذرهامنه.صلى الله عليه وآله واصحابه وسلم تسليماًكثيراً.

اما بعد:قال الله تعالى فى القرآن الكريم:{قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ}الاعراف:(۳۳)

د هغه ناوړه مرضونو او فتنو له جملې څخه چې اسلامي ټولنه وربانديې اخته ده، ساز او سرود دی چې موسيقي هم ورته ويل کيږي.

د مستی لپاره ډولونه او سازونه غږول کبيره ګناه ده چې د جاهليت له زمانې څخه اسلامي ټولنو ته را پاتې ده.

سازونه غږول او سندری ويل د نفاق علامه ده چې د اسلام مقدس دين ورڅخه منع کړی ده.

د ساز او سرودونو غږول او ورته غوږ ايښودل د انسان ضمير وژني او دالله تعالی د يادولو څخه انسان راګرځوي.

ساز او سرود ته غوږ ايښودل ګناه ده او دګناه څخه خوند اولذت اخيستل انسان کفر ته رسوي.

علمای کرام وايې چې سندری، ساز او سرود د زنا مقدمات دي او په زړه کې نفاق راټوکوي.[نزهة الاسماع ابن رجب]

په ټولو اديانو کې د ساز او سرود غږول او ورته غوږ ايښودل حرام ګرځول شوی دی.[روح المعاني]

د سندرو او بدلو ويلو او ورته غوږ ايښودلو حرمت هغه وخت نورهم شدت پيدا کوي چې ورسره د لهو او لعب نور آلات ملګري شي لکه ، تبله، رباب او داسې نور.

د نن زمانې ساز او سرود چې تبلې، باجې، ربابونه او نور د لهو او لعب شيان غږول کيږي حرام دي.

ساز او سرود غږول او ورته غوږ ايښودل د فاسقانو خوی او عادت دی.

دا کارونه هغه وخت زيات د شرم څخه ډک وي چې په اسلامي هيواد کې سندرغاړو او ډمانو ته د ( دافغان ستوري) لقب ورکول کيږي.

مسلمان لره ښايې چې په هغه مجلس کې برخه وا نخلي چې ساز او سرود په کې وي؛ ځکه چې دا منکرات دي او په هغه مجلس کې ګډون کول چې منکرات په کې وي حرام دي.

**د ساز او سرود حرمت په قرآن کريم کې:**

الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُواً أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِين} لقمان: (٦)ترجمه: او ( ځينې ) له خلکو څخه هغه څوک دي چې پيري عبثې خبری ( اړوونکې له حق څخه)

لپاره ددې چې وه ښويوي (خلك) له لارې د الله نه بې له علمه( په عاقبت د فعل خپل) او چې اونيسي دا ( لاره يا آيتونه) په ټوکو مسخرو سره دغه (کسان) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

اکثره صحابه لکه عبدالله ابن مسعود، عبدالله ابن عباس، جابر ابن عبدالله رضي الله عنهم او جمهور تابعين وايې چې د (لهو الحديث) څخه سندرې او بدلی ويل مراد دي.[ تفسير ابن کثير]

قال الحسن البصري: أنزلت هذه الآية: { وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ } في الغناء والمزامير.[ابن كثير]

ترجمه:- امام حسن بصری رحمه الله وايې: نازل شوی دی داآيت: { وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ } په سندرو او شپيليو کې.

په يو بل آيت کې الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَالَّذِينَ لاَ يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَاماً} الفرقان: (۷۲)

ترجمه:- او( بنده گان د رحمان) هغه کسان دي چې نه حاضرېږي په باطلو کې او کله چې تيرېږي پرچټي (بيکاره) کار نو تيرېږي ځان ساتونکي( مخ گرځوونکي له لغوی نه).

په يو بل مبارک آيت کې رازي:{وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ} المؤمنون: (۳)

ترجمه:- او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی له ناکاره ( بدو اقوالو بدو افعالو) څخه مخ گرځوونکي دي.

په عربي لغت کې (لغو) هرهغه ناوړه او بې کاره او لويدلی خبری او کار ته ويل کيږي چې دنيوي او اخروي فائده ونه لري.

دهمدې امله مفسرين کرام وايې چې په ( لغو) کې سندری او بدلې ويل هم شامليږي.

امام طبری وايي:(وَسَمَاعُ الْغِنَاءِ مِمَّا هُوَ مُسْتَقْبَحٌ فِي أَهْلِ الدِّينِ، فَكُلُّ ذَلِكَ يَدْخُلُ فِي مَعْنَى اللَّغْوِ) تفسير الطبري.

ترجمه:- د سندرو اوريدل هغه څه دي چې په دين والا کې ډير قبيحه دي او دا ټول شيان په لغوه کې شامليږي.

**د ساز او سرود حرمت په نبوي آحاديثو کې:**

په يوحديث شريف کې رازي:(عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ بَعَثَنِي رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ) مسند أحمد

ترجمه:- دابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:
بيشکه الله تعالی زه رالیږلی يم رحمت د عالَم لپاره او هدايت دعالَم لپاره او ماته يې امر کړی دی رب زما په محوه کولو د ساز او سرود د وسائلو او د شپيليو.

په يو بل حديث شريف کې رازي:(صَوْتَانِ مَلْعُونَانِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ: صَوْتُ مِزْمَارٍ عِنْدَ نِعْمَةٍ وَصَوْتُ مُرِنَّةٍ عِنْدَ مُصِيبَةٍ )أخرجه البزاركما فی مجمع الزوائد قال الهيثمی: رجاله ثقات.

ترجمه: دوه آوازونه لعنتي دي په دنيا او آخرت کې د شپيلۍ آواز د نعمت پر وخت او آواز د ژړا په وخت د مصيبت کې.

په يو بل حديث کې رازي:(لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ) صحيح البخاري.

ترجمه:- خامخا زما په امت کې به داسې قومونه وي چې حلال به گڼي زنا او وريښم او شراب او ساز او سرود.

پيغمبرعليه السلام د سندرغاړی ښځې له آخيستلو او خرڅولو څخه منع کړی ده او دسندرو څخه ترلاسه شوی گټه هم حرامه ده. په يو حديث کې رازي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:(لاَ تَبِيعُوا الْقَيْنَاتِ، وَلاَ تَشْتَرُوهُنَّ، وَلاَ تُعَلِّمُوهُنَّ، وَلاَ خَيْرَ فِي تِجَارَةٍ فِيهِنَّ، وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ) سنن الترمذي

ترجمه:- مه خرڅوئ سندرغاړی ښځې، او مه يې اخلئ، او مه زده کوئ ورته سندری او نشته خير په تجارت ددوی کې او پيسې يې هم حرامې دي.

لله الحمد په افغانستان کې د اسلامي امارت په راتللو سره د ساز او سرود او سندرو مخنيوی کيږي او په دې اړه د آمربالمروف او نهی عن المنکر وزارت ددولت په تشکيل رامنځ ته شوی دی.

مونږ مسلمانانو ته لازم ده چې د مبائلونو او کمپيوټرونو څخه ساز او سرودونه وا نه اورو او دخلکو بالخصوص د ځوانانو په مبائلونو کې د سندرو اچولو څخه جداً ځانونه وساتو ؛ ځکه دا په ګناه کې مرسته ده چې شريعت ورڅخه منع کړی ده او ددې لارې څخه ګټه ترلاسه کول هم حرام دي.

په يو بل روايت کې رازي: عن عَبْدِاللهِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ:(الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِى الْقَلْبِ) سنن أبى داود

ترجمه:- د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: سندرې را زرغونوي نفاق په زړه کې.

عن عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ:(نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضَرْبِ الدُّفِّ وَلَعِبِ الطَّبْلِ وَصَوْتِ الزِّمَّارَةِ) [تحريم النرد والشطرنج والملاهي للآجري]

ترجمه:- د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړی ده دريا (چمبه) د وهلو څخه او د تبلې د لوبې څخه او د شپيلی د آواز څخه.

**د ساز او سرود حرمت د مجتهدينو او فقهاوو له نظره:**

نن چې کومه موسيقي رواج ده چې په هغې کې سندری ويل کيږي او په هر ډول منکراتو باندې مشتمل ده، دا په اتفاق د مجتهدينواو فقهاوو حرامه موسيقي ده.

هغه ساز او سرود چې ډولونه په کې وهل کيږي او د اجنبي ښځو صفت په کې بيانيږي او په کې خلك فحشاء ته را بلل کيږي، د څلورو امامانو له نظره حرامه موسيقي ده.

امام مالك رحمه الله به له موسيقی څخه منع کوله اوله ده څخه پوښتنه وشوه چې دمدينې ځينې اوسيدونکي خو داکار کوي؟ امام مالك رحمه الله په ځواب کی ورته وويل دا کار دلته فاسقان ترسره کوي .[نزهة الأسماع]
امام شافعی فرمايلي دي: د سازنده نروي اوکه ښځه ګواهي اوشاهدي قبوله نده.[ نزهة الأسماع]
امام شافعی په يوبل ځای کی ويلی دی (هي دياثة ای ديوث ) موسيقی غږول اواوريدل ديوثی ده.

امام احمد وايی چې د موسيقی آلات ټول حرام دی.

امام مرغيناني رحمه الله وايې(ولا من يغني للناس لأنه يجمع الناس على ارتكاب كبيرة) الهداية شرح البداية.

ترجمه:- (عادل ) شخص هغه دی چې خلکو ته به سندرې نه وايې؛ ځکه سندرې او بدلې ويل؛ خلك په کبيره ګناه باندې راټولوي.

په فتاوای تتارخانيه کې راغلي دي چې سازاو سرود په ټولواديانو (شريعتونوکی) کې حرام ګرځول شوي دي.

امام ابن نجيم فرمايي: (وَظَاهِرُهُ أَنَّ الْغِنَاءَ كَبِيرَةٌ وَإِنْ لم يَكُنْ لِلنَّاسِ بَلْ لِإِسْمَاعِ نَفْسِهِ دَفْعًا لِلْوَحْشَةِ...وفي الْمِعْرَاجِ الْمَلَاهِي نَوْعَانِ مُحَرَّمٌ وهو الْآلَاتُ الْمُطْرِبَةُ من غَيْرِ الْغِنَاءِ كَالْمِزْمَارِ سَوَاءٌ كان من عُودٍ أو قَصَبٍ كَالشَّبَّابَةِ أو غَيْرِهِ كَالْعُودِ وَالطُّنْبُورِ. وَالنَّوْعُ الثَّانِي مُبَاحٌ وهو الدُّفُّ في النِّكَاحِ وفي مَعْنَاهُ ما كان من حَادِثِ سُرُورٍ).[ بحرالرائق ]

ترجمه:- د (کنزالدقائق له عبارت ) څخه معلوميږي چې سندری او بدلې ويل کبيره ګناه ده ولو که خلکو ته يې نه وايې؛ بلکې د ځان سره وايې ترڅو وحشت ورباندې دفع کړي. معراج الدرايه کې راغلي دي: موسيقي دوه ډوله ده يو ډول يې

حرامه ده چې هغه د هغو وسائلو غږول دي چې پرته له سندرو څخه مستي راوستونکي وي؛ لکه شپیلي غږول برابره خبره چې هغه دلرګي نه جوړ وي او که دورمو ( نی ) څخه جوړ شوی وي یا نور داسې شیان لکه شپیلۍ ، رباب او تبله وهل.

دوهم ډول مباح ده چې هغه دریا( چمبه ) وهل دي په نکاح کې او داسې نورې د خوښۍ مراسمو کې .

په البزازیة فتاوی کې رازي :( استماع صوت الملاهي معصیة والجلوس علیها فسق والتلذذ بها کفر ) مجمع الأنهر في شرح ملتقی الأبحر ). ترجمه: د ساز او سرود اوریدل ګناه ده، ساز او سرود ته کیناستل فسق دی او خوند ورڅخه اخیستل کفر دی.

علامه ابن الصلاح په خپله فتاوی کې لیکي: (هذا السماع حرام بإجماع أهل الحل والعقد من المسلمین، ویستدل بالآیة علی حرمة الملاهي کالرباب والجنك والسنطیر والکمنجة والمزماروغیرها بناء علی ماروی عن ابن عباس والحسن انهما فسرا لهوالحدیث بها نعم انه یحرم استعمالها واستماعها فقد صح من طرق). [فتاوی ابن الصلاح]

ترجمه:- د ساز، سرود او موسیقي اوریدل د مسلمانانو داهل حل وعقد په اجماع سره حرامه ده او د ساز او سرود د اسبابو او وسائلو د حرمت لپاره په آیتونو استدلال کیدای شي لکه رباب او چنګ ، تنبور، شپیلي او داسي نور، ځکه چې د ابن عباس او حسن رضي الله عنهم څخه روایت دی چې هغوی لهو الحدیث په همدې سره تفسیرکړي دي ، هو د دغه شیانو استعمال او اوریدل دواړه حرام دې چې د متعددو لارو څخه ثابت دي.
البته د حنفي فقهې د ځینو فقهاوو نظر دادی چې ډول وهل په هغه ځایونو کې جوازلري چې په شریعت کې منصوصي دي او نور مستوونکي آلې ورسره نه وي؛ لکه په جهاد کې ډول وهل، د واده او دواده په څیر په نورو خوشحالیو کې ډول وهل؛ ځکه په شریعت کې د نکاح اعلان مطلوب دي.[بحرالرائق باب من تقبل شهادته ]

هو! هغه نعت چې په هغې کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صفت بیانیږي او دمجاهدینو توصیف او شجاعت په کې تمثیلیږي او یا د مکې معظمې او مدینې منورې صفت په کې وي په دې کې کوم مشکل نشته، مګر هغه سندرې چې د اسلامي آدابو او اخلاقو سره په ټکر کې وي او په هغې کې د شرابو صفت وي او د شرابو د څښلو ته په کې دعوت وي او یا په کې د فساد اخلاقي د تحریك باعث ګرځي داسې سندرې حرام او ممنوع دي.

## د ساز او سرود ضرورنه:

ساز او سرود مختلف ډول دنیوي، اخروي، جسمي، روحي او رواني ضررونه لري چې ځیني ضرورونه یې په لاندې ډول دي:

**۱- ساز او سرود په زړه کې نفاق زرغونوي.** د ساز او سرود اوریدل د انسان زړه فاسدوي او په هغه کې نفاق را زرغونوي؛ لکه څرنګه چې اوبه په ځمکه کې واښه زرغونوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (عن عَبْدَ اللَّهِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: ( الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِى الْقَلْبِ). سنن أبی داود

ترجمه:- د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یي فرمایل: سندری زرغونوي په زړه کې نفاق.

**۲- دساز او سرود اوریدل د الله تعالی د ذکر او یادولو څخه مانع ګرځي.**کوم کسان چې د ساز او سرود په اوریدو او دسندور په مجلس کې په رقص او لوبو کې مصروف وي ، هغه په جماعت سره د لمونځ کولو څخه محروم وي. الله جل جلاله فرمایلي دي:{وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِعِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ}لقمان: (٦)

ترجمه:- او(ځيني)له خلکو څخه هغه څوک دي چې پيري عبثې خبرى ( اړوونکې له حق څخه) لپاره ددې چې وه ښويوي (خلکك) له لارې د الله نه بې له علمه( په عاقبت د فعل خپل) اوچې اونيسي-دا(لاره يا آيتونه) په ټوکومسخرو سره دغه( کسان) شته دوى ته عذاب سپکوونکى.

**۳- ساز او سرود د اخلاقي فساد سبب ګرځي.** سندرې ويل، لهو او لعب انسان شهوت او اخلاقي فساد ته جذبوي او د پرهيزګارى له لارې څخه يې اړوي، د غنا او موسيقى مجلسونه معمولا د ډول ډول فسادونو مرکزونه وي، دا ددې خبرې ښکاره دليل دى چې ساز او سرود په اخلاقي فساد کې مهم رول لوبوي. فضيل ابن عياض رح فرمايي:(الغناء رقية الزناء)

ترجمه:- سندرى د زنا دم دى.

**۴- ساز او سرود د قرآن کريم سره محبت له منځه وړي.** ساز او سرود د انسان د زړه څخه د قرآن کريم محبت محوه کوي او دا دواړه په يو زړه کې نه جمع کيږي؛ ځکه قرآن کريم د الله تعالى وحى ده او ساز او سرود د شيطان وحى ده چې دواړه سره متناقض او په يو زړه کې نه يوځاى کيږي.

ابن قيم جوزيه وايې: (حب الكتاب وحب ألحان الغنا ... في قلب عبد ليس يجتمعان) الكافية الشافية

ترجمه:- د کتاب الله محبت او د سندرو محبت د بنده په يو زړه کې نه يوځاى کيږي دواړه.

**۵- د زړه سخت والى.** د ساز او سرود د بدو اغيزو چې دانسان په روح باندې يې لري د انسان د زړه سختوالي مرض دى او د زړه د سختوالي نتيجه دا ده چې نور بيا په داسې زړونو باندې وعظ او نصيحت هيڅ اثر نه کوي؛ځکه چې د ګناهونو اثر د زړه سختوالى دى. الله تعالى فرمايلي دي: {ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً } البقرة: (۷۴)

تر جمه:- بيا سخت شول زړونه ستاسې پس له دغه (ژوندي کولو دمړي) نو دغه (زړونه) په مثل د تيږي دي ( په سخت والي کې) بلکې زيات دي په سختوالي کې.

**٦- ساز او سرود د شيطان وسيله ده.** ساز او سرود شيطانى آوازونه دي چې شيطان په ساز او سرود سره دالله تعالى بندګان ګناه لوري ته رابولي، فسق، ګناه او فجور ته دعوتوي دالله تعالى له عبادت څخه غافله کوي. الله جل جلاله داسې فرمايلي دي:

{وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُوراً} الإسراء: ۶۴)

ترجمه:- او وه خوزوه هغه څوک چې طاقت دې رسيږي پر هغه باندې له دوى نه په غږ خپل سره او راکاږه پر دوى سواره خپل او پياده خپل او شريک شه له دوى سره په مالونو کې او په اولادونو کې او وعده ورکوه له دوى سره او نه کوي وعده له دوى سره شيطان مګر (په) مکر باطل .

د قرآن کريم مفسر امام مجاهد رحمه الله ددي آيت په تفسير کې وايې : د شيطان آواز سندرې، شپيلې او سرود دى.[تفسير البغوي]

**۷- ساز او سرود سره شيطانان راجمع کوي.** ساز او سرود وهل او غږول شيطانان راجمع کوي او شيطانان د سندرغاړو او ساز وهونکو سره تل ملګري وي او په هغه ځاى کې چې شيطانان موجود وي هلته بيا ملائکې نه وي.

**۸-** ساز او سرود دالله تعالى د غضب او قهر سبب ګرځي.

**والسلام عليكم ورحمة الله**